# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد      بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم      از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com      afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنير سيد عبدالقادر


۷ــ ۹ ــ ۲۰۱۰




## دولتي چارواكي حق نلري چې دلوټ مارانو او قمار بازانو ددرغليو تاوان

## دبيت المال په پيسوبانډي وركړي !

دليكني په شروع كبني بايد ووايم چې لومړي بايد دكرزي صاحب څخه دا پوښتنه وسي ، چې په اساسي قا نون كي خو تاسو ته دا حق نه دي دركول سوي ، چې دما فيا يـي ډلو ټپلو ددرغليو او په ډوبي كي دهغو دعياشيو د بي ساري لګښت قيمت بايد تاسو دبيت المال دپيسو څخه وركړي ٠ ددې سوال ځواب ولس هغه وخت ستاسو څخه غواړي ، چې دولتي حاكميت دولس په لاس كي سي اوبس ٠ كرزي صاحب : ددې پر ځاي چې تاسو دماليي پخواني او اوسني وزير اودافغانستان بانک رئيس ، چې دخصوصي بانكونو په اړوند يي خپلي دندي نه دي اجرا كړي ، او تاسوته يـي هم پر لازمو وختونو باندي ، دخصوصي بـانكونو دغيرقانوني معاملو او پـه حسابونو كـي دننه شفافيت په هكله ، رپوټونه نـه دي دركړي ، نو تاسو بايد دغه چارواكي او دكابل بانـک درهبري پـه شمول وعدلي محكمي ته معرفي كړي وايي ، چې ولـي يـي پر خپل وخت ددې نا پـاكو معاملو مخه نـه ده نيـولي ٠اونـه يـوازي بايـد دوي دخپلـو وظيفـو څخـه ليـري سـوي واي ، بلكـه ددې ۳۰۰ سـوو

میلیونوډالرو دتاوان بار هم باید ددوي پر اوږو باندي اچول سوي واي ۰ ولي متاسفانه بر عکس معلومه سول چی تاسو ودوي ته برائت ورکړ، او دپیسو دتاوان پیټي مو ددې غریب ملت پر اوږوور واچاوه ، په داسي حال کي که تاسو دآریانا دټلویزیون د روژي مبارکي میاشتي دمازدیګر دشپږ نیمو بجو د ( بیو زلو کورنیو ) پروګرام یوه ورځ وګوري ، چی داکورني په ځونه لوږه کچه د بي وزلي او ناداري سره مخا مخ دي ، چی په واقعیت کي دانسان وجدان ته ټکان ورکوي ولي دبله طرفه بیا ددې بي وزلو انسانانو دبیت المال پیسی دځینو لوټمارانو وجیبونوته لویږي ۰ باید وویل سي چی کرزي صاحب تاسو یوه بله پیر زوینه هم دکابل بانک پر رهبریو باندي کړي ده هغه داچي ، دمالیي وزارت ددولتي مامورینو ( اردو ، پولیسو ، ملکي ) میاشتني معاش دکابل بانک دلاري څخه په داسي حال کي ورکوي ، چی دمالیي دوزیر دځرګندونو پر اساس کابل بانک ته یي ۱۰۰ میلیونه ډالره دتضمین په ډول مخکي تر مخکي لا ورکړي دي ۰ په داسي حال کي چی دافغانستان دولت خپل داعتبار وړ بانکونه لري ، چی هر وخت به دولتي مامورینو ته دخپلو بانکونو لاري څخه معاشونه ورکول کیدل ۰ په نتیجه کي ویلایسو چی لومړي دا ۱۰۰ میلیونه ډالره په بانکي چلندونو کي دکاله په لکونو ډالره ګټي ۰ چی داګټه هم دپورتني عمل په نتیجه کي دافغان ولس له لاسه وتلي ، او د لوټمارانو وجیبو ته لویدلي ده ۰ بل داچی دمعاش دورکولو له پاره ځونه بي ځایه ټکس دکابل بانک دمالیي دوزارت څخه اخلي ۰ دانو دا معني لري لکه سړي چی خپل شخصي موټر لري ولي دخپل کار او بار له پاره دټکسي موټرڅخه استفاده کوي ۰

اوس به دپورتنیو مسلي ځیرنیزي برخي ته راشو ۰

نیژدي دیوي هفتي راهیسي په ځینو داخلي او بهرنیو رسنیو کي دکابل بانک دمالی بحران ( ډیوالي کیدو ) په هکله ډیر داسي څه راوتلي دي ، چی په حقیقت کښي یي ، په دولت کي دفساد پرده نوره هم را پورته کړه ۰ هغه دا چی دافغانستان بانک چاروا کي داتو کلونو راهیسي ددوي په دې غیرقانوني کړونو او درغلیو باندي پوره خبر وه ، ولي په دې خاطر چی ددولتي لوړ پوړو چاروا کو دکورنیو غړي پکښي سهیم وه ، ځکه نو ځانونه یي غلي نیولي وه ۰ په داسي حال کي چی دافغانستان بانک رسمي دنده ده چی دخصوصي بانکونو دراکړي ورکړي او ددوي دمعاملو څار نه او پلټنه وکړي ، چی دخلکو پیسي بي ځایه نه سي ۰ په داسي حال کي د نیویارک ټایمز ورځپانه بیا داسي لیکی : محمود کرزي چی دهم دې بانک شریک دي دخپل سیاسي قدرت له وجی دا بانک تر اوسه پوري له پلټونو څخه بچ کړي وو ۰ ولي په اوس مهال کي بیا دیو شمیر واقعیتونو په خبریدو سره دکابل بانک ډیرو هغو مشتریانو چی ددې خصوصي بانکونو دچل او چم څخه د ډکو تبلیغاتي انځورونو په جالونو کي بند راغلي وه ، او ټوله په دې فکر کي وه چی ډیر ژر به دکابل بانک طلایي سیټونو ، اپارتمانو نو او موټرونو ته ځانونه ورسوي ، نو دخصوصي بانکونو دادرسونو پر لور باندي روان وه ۰ او ددولتي بانکونو څخه یي مخونه اړولي وه ۰ په داسي حال کي چی د دې خصوصي بانکونوڅخه چی به دهیواد ځیني محتاجو دقرضي تقاضا کوله ، دافغانستان دبانک درئیس نیژدي د یوه کال مخکي دځرګندونو په حواله دې بانکونو به دمحتاجو خلګو څخه دټاکلي تضمین تر څنګ ۲۲ فیصده ګټه هم غوښتله ۰ چی دنړي په هیڅ ګوټ کښي په بانکي چلندونو کي داسي په لوړه کچه ګټه شتون نلري ۰ چی په واقعیت کښي داددوي هغه بله د بي ر حمي تیره توره ده چی دا جنګ ځپلي ولس په وهي ۰ په داسي حال کي چی دوي ډیري پیسي دډیر شمیر مشتر یانو څخه یوازي دقسمت دحساب او یا دبخت ازمویني په شکل بي له دې چي ګټه ورکړي اخلي۰ او دا مشتریان ددې واقعیتونو څخه خبر نه وه ، چی ددوي په پیسو باندي په غیر قانوني ډول کوم درغلګران په ډوبي کي عیاشي او نوري معاملي مخ ته بیایي ۰ ولي اوس چی په دې حقیقت باندي خلک خبر سول ، ځکه نو په افغلنستان کي دکابل بانک ډیر شمیر مشتریان ددې بانک ومختلیفو څانګوته په قطارونو دریدلي ،او دخپلو نقدي سهمونو دایستلو په تلاش کي سول ، چی نیژدي ددوو ورځو په جریان کښي (۱۸۰ ) میلیونه ډالره دکابل بانک څخه ایستلي او دخپلي خوښي وامن ځایونو ته یي انتقال کړل ۰ چی دخلګو ددغه ویري دا لړي اوس هم ادامه لري ۰

اوس نو سوال داسي رامنځ ته کيږي چې ايا نړيوال مالي او اقتصادي بحران نن ددې بانک وځپلو ته ځان نيژدي کړي دي ، او که دکابل بانک درهبريو درغليوستر رول بازي کړي دي ؟

ولي زه به دځينو واقعيتونو په ليکلو سره ددې سوال و ځواب ته لږ څه ځان ور نيژدي کړم ۰ هغه داچې لومړي بايد ووايو، چې په افغانستان کي دامريکايي يرغل سره سم يو شمير مسلکي اقتصادي جنايتکاران ځيني دملي تجارانو او ځيني بيا دتيکنوکراتانوترنامه لاندي ودې جنگ ځبلي هيواد ته راننوتل ۰ او نيژدي ددې نهو کلونو په موده کښې يې وکړايسواي ، چې دداخلي لويو بشري او اقتصادی جنايتکارانوپه لاس نيوي سره نيژدي دهيواد ټوله اقتصادي عرصې ( منقولي او غير منقولي ) ديرغلي ځواکونو دشتون په زور تر خپلي قبضې لاندي راولي ۰ چې په دې عرصه کي ددوي سره دافغانستان فا سدي اداري څکه ډير ستر رول ولوباوه ، چې دا فاسده اداره هم نيژدي (۹۵ فيصده ) ددغسي فاسدو تيکنوکراتانو ، بشري او اقتصادي جنايتکارانوڅخه جوړه ده ۰ ولي خوشبختانه ديرغل په وړاندي ملي مقاومت ددوي دجنايت څخه ډکودرغليو دفعاليت ساحه تر ډيره حده ور محدوده کړي ده ، هغه داچې ، اوس دوي يوازي په ښارى او په نيژدي کليوالي سيمو کي خپلو درغليو ته ادامه ورکوي ، کوم چې امنيت يې يرغلي ځواکونو نيولي دي ۰ ځکه نو دوي په دې اتو کلونو کښي وکړايسواي چې دملت دشتمنيو لويه برخه چې ددې جملي څخه ويلايسو چې دوطن په گوټ گوټ کښي يو شمير ( توليدي تصديگاني ، هوټلونه ، کوچني معدنونه په ميليونونه هيکتاره زراعتي او مسکوني مځکي او ډير شمير تفريحي پارکونه ) په خپلو ناروا قبظو کي راولي ۰ ځکه نو داسي ډلي ټپلي په دې فکر کي هم وي ، چې په داسي يو هيواد کي چې هغه ولس يې ديرغل تر سيوري لاندي شپي او ورځي تيروي ، او واکمنان يې دقانون څخه په خپله گټه ديوي تيري توري په حيث استفاده کوي ، څنگه کولايسي چې دخلکو دجيبو پيسي هم په ډير چل او چم سره خپلو جيبونو ته واچوي ،او خپلي غير قانوني معاملي په وکړي ۰ چې ښه مثالونه يي په افغانستان کي ديرغل په دې څو کلونو کښي د۱۵ خصوصي بانکونو رامنځ ته کول دي ، چې ديو شمير دولتي واکمنانو دپټو پيسو دچلند له پاره يې هم ښه زمينه برابره کړه ۰ چې ددې جملي څخه يو هم دکابل بانک دي چې د تيري هفتي راهيسي دډيوالي کيدو پر لوري باندي درومي ۰ ولي ددې بانک دډيوالي کيدو دمخ نيوي له پاره کرزي هم په ډير صداقت او جرائت سره وکابل بانک ته خپل د کومک ځگر وتکاوه ۰ په داسي حال کي چې دواشنگټن پوست دتازه ليکنې په حواله چې ليکي ، د کابل بانک ريس دافغانستان په هغو له درغليو ډکو انتخاباتو کي چې داسد مياشتي په ۲۹مه تر سره شول د حامد کرزي مالي ملاتړ وکړ او د کابل بانک يو شريک د حامد کرزي مشر وروممحمود کرزی او بل شريک يې د ولسمشر د لومړي مرستيال وررور حسين فهيم دي ۰ او هم زياتوي چې د کابل بانک او حامد کرزي تر منځ نږدې اړيکو دې ته لاره هواره کړي چې د مليونونو ډالرو په ارزښت د کابل بانک پيسي د حامد کرزي د کورنيو د غړو او نورو ملگرو له لوري د دوبۍ د ښکلو او مستريحو کورونو په اخيستلو مصرف شي ۰.

په داسي حال کي چې دا ورځپانه دکابل بانک درئيس فيروزي له قوله ليکي چې وايي دهغه شريک شيرخان فرنود په دوبۍ کي په جايدادونو باندي ۱۶۰ ميليونه ډالره لگولي دي ۰ او واشنگټن پوست دفبروري په ۲۲ مه گڼه کي داسي ليکي ، چې د دوبۍ د مليکتونو د ثبت په ديتا بيس کي دا هم راغلي چې فرنود او د هغه د بانک شريکانو د دوبۍ په ريل ستيت کي ۱۵۰ مليونه امريکايي ډالره په کورنو او سوداگريزو ودانيو پانگی کړي دي۰ په داسي حال کي چې دافغانستان د بانکداري دقانون پر اساس خصوصي بانکونه دا حق نه لري چې دافغانستان د سياسي قلمرو څخه دباندي دخلگو په پيسو باندي معاملي تر سره کړي ۰

ولي د افغانستان د مرکزي بانک ريس عبدالقدير فطرت بيا په ډيره بې شرمانه ډول سره واشنگټن پوست ته داسي ويلي دي : چې زمونږ مامورينو په ډيره دقيقه توگه د هغه څه په اړه چې مونږ

ورته په دوبۍ کې د خصوصي بانکونو له لوري د سرمايه ګزارۍ آوازې وايو پلټني وکړې خو متاسفانه چي تر اوسه زمونږ ټيمونو هيڅ هم ندي موندلي ۰ دماليي وزير هم بيا په يوه خبري ناسته کي دکابل بانک په اړه دغه ټولي اوازې په بشپړه توګه غلطي ، دروغجني او هسي جوړې شوي خبري دي ۰ هغه دا خبره هم بې بنسټه او تشه يوه آوازه وبلله، چې کابل بانک خپلې پيسې له هيواد څخه دباندې باسي ۰ په داسي حال کي چې دکابل بانک رئيس دبانک څخه دپيسو ايستلو او په دوبۍ کې دتعميراتو په خريداري باندې په داسي حال کي اعتراف کوي ، چې دماليي وزير او دافغانستان بانک رئيس بيا په ډيره سپين سترګې دخلګو څخه هرڅه پټوي ، په واقعيت کې دانو ددوي دپاره ډير د شرم او سر ټيټي ځاي دي ، چې دا لوړ پوړي چارواکي په ځونه لوړه سطح کې دفساد او درغليوپه دفاع کې درېږي ۰ ځکه نو دولسي جرګې يو شمير ملي ګټو ته وفاداره وکيلانو ته پکار ده چې ددولت د دې غير قانوني کړونوسره دقانون په چوکاټ کې دملي ګټو په رڼا کې په قاطيعت سره برخورد وکړي ۰او لازمه ده چې ولسي جرګه دماليي پخواني او اوسني وزير ، دافغانستان بانک رئيس وعمومي جلسي ته وغواړي اودخصوصي بانکونو دکار او دراکړي ورکړي د معاملو او په بهر کې په غير قانوني ډول دپانګو اچونو او د مسؤلو چارواکو دمسؤليت په هکله بايد دملي ګټو په نظر کي نيولو سره برخورد ورسره وسي ۰ چې په راتلونکي کې بيا دولتي چارواکي او خصوصي بانکونه داسي ددرغليو څخه ډکې کړنې ونکړي ۰ او هم بايد ووايو چې دکابل بانک درهبري د څرګندونو دنه شفافيت او دپټو معاملو په اړوند واشنګټن پوست دفبرورۍ په ۲۲ تمه ګڼه کې بيا داسي ليکلي دي : چې محمود کرزي ويلي چې ده د کابل بانک اوه اعشاريه ځلور فيصده سهم په هغو پينځو مليونو ډالرو اخيستي چې له همدغه بانک څخه يې په پور اخيستي خو د بانک د تفتيش د څانګي چاروآکی ګوپال کريشنا بيا وايي چې د دوي په کتابچو کې داسي حساب نشته چې وښيي د حامد کرزي ورور د له بانک څخه پور اخيستی دي ۰

دپورتنيو څرګندونو څخه داسي نتيجه اخيستلايسو چې د ټولو واقعيتونو سره سره اوس هم ددولت لوړ پوړي چارواکي دکابل بانک درهبري درغلي او په معاملو کې د شفا فيت نشته والي پټوي ۰ ځکه نو په جرائت سره ويلايسو ، چې د دوي مادي ګټې ورسره شريکي دي ۰ او متا سفانه دولتي چارواکو دکورنيو اړيکو له کبله ددې بانک په تاوانونو کښې ملي شتمني ور مخ ته کړل۰ چې په نتيجه کي ۲۰۰ ميليونه ډالره ددې جنګ ځپلي او غريب ولس په اور کې وسوځول سول ۰

د پورتنيو واقعيتونو په نظر کي نيولو سره

ځيني داسي پوښتني راپورته کيږي : چې آيا کابل بانک دکوم قانون او تضمين پر اساس ۹۲ ميليونه ډالره دکرزي صاحب دمرستيال وروړته ( حسين فهيم ) اويا نورو سهمدارانو ته په ميلينونو ډالره ورکړي دي ؟ آيا ددغه ۹۲ ميلينو ډالرو په مقابل کي بانک کومه ثابته سرمايه په تضمين کي اخستي ده ۰ که هغه د۹۲ ميليونو ډالرو په مقابل کې ثابته سرمايه په تضمين کي ورکړې وي ، نو سوال دادي ، چې دا ثابته سرمايه په کومو پيسو اخيستل سوي ده ۰ او يا دابانک محمود کرزي او احمد ضيا مسعود ته د۵، ۵ ميليونو او ۲،۲ ميليو ډالرو کوروونه ورکوي ،نو دادکوم هدف دپاره دا معامله تر سره کيږي ۰ آيا داداسي هلي ځلي نه دي چې افغان ولس نور هم نا آرامه کوي ؟ په داسي حال کي چې دکابل بانک رئيس په خپلو څرګندونو داسي ويلي دې چې دې بانک تر اوس مهاله پورې ۳۰۰ ميليونه تاوان کړي دي ۰ دځينو رسنيو له مخې ددې بانک خپله اصلي سرمايه ۱۲۰ ميليونه ډالره ده ،نو په نتيجه کې دې بانک نه يوازې خپله اصلي سرمايه بلکه ۱۸۰ ميليونه ډالره يې دخلګوهم بايللي دي ۰په داسي حال کي چې دې بانک ته د خلګو ورکړل سوي پيسي و( ۱۳۰۰ ) ميليونو ډالروته رسيږي ۰ نوداسي معلوميږي چې په راتلونکي به دا بانک خپلې مشرو ع اويا نا مشروع معاملي دخلګو دپور په پيسو باندې مخ ته وړي ۰ ځکه نو که دکابل بانک درهبري سره دملي ګټو په نظر کي نيولو سره په دقت او

جد یت باندي دقانون په چوکاټ کي بر خورد ونه سي ، نو ډیر ژر به نور خصوصي بانکونه هم دخپلي ډیوالي ناري را پورته کړي ۰چی په دي اړوند دفبروري پر ۲۲ مه دواشنګټن پوست په ورځپانه کي داسي لیکل سوی دي : عزیزي بانک بنسټ ایښودونکی میرویس عزیزي هم د بانک ډیري پیسي د دوبی ریل سټیت ته انتقال کړي او راتلونکي یي هم نامعلومه ده. میرویس عزیزي په دوبی کي د عزیزی انوسمینټ په نامه د یوی کمپنی مشري هم کوي چي د دوبی په جبیل علي کي یي د جایدادونو پر سر ډیره پانګونه کړي ده.

واشنګټن پوست لیکي چي د دوي خبریالانو غوښتل له میرویس عزیزي څخه هم د افغانانو د هغو پیسو د حرکت په اړه پوښتنه وکړي چي په افغانستان کي دننه د عزیزي بانک له لوري ټولي شوي او د دوبی په جبیل علي کي په کورونو او لوړ پوړیزو ودانیو بندي دي، خو د میرویس عزیزي زوی فرهاد ورځپاني ته ویلي چي پلار یي ډیر مصروف دی ۰ نوپه نتیجه کي ویلایسو که دا چارواکي هم داسي ددرغلیو په دفاع کي روان وي ، نو حتمي ده چی خصوصي بانکونه به یو په بل پسي دډیوالیتوب ږغونه پورته کوي او بیا به هغو ته هم دبیت المال څخه دکرزي صاحب په امر پیسي ورکول کیږي ۰

تمت باالخیر

اخځ : دبینوا ویب پاڼه

: دافغان جرمن انلاین

: امریکا ږغ ویب پاڼه